

# نوزېبېلې او درې وېښتان

Tessa Welch
Wiehan de Jager
Darakhte Danesh
3
پښتو ps



په ډېر پخوا زمانو کې درې نجونې د لرګیو را ټولولو لپاره دباندې ووتلې.



دا چې ورځ ګرمه وه، نو دوی د کلي لاندې سیند ته ولاړې، چې ولامبي. دوی د اوبو منځ کې لمبلې او لوبې کولې.



ناخاپه د دوی فکر ته راغلل، چې ناوخته دی نو په چټکۍ سره
بیرته د کلي په لور روانې شوې.



هغوی کور ته نږدې شوې وې چې نوزیبیلې خپل لاس پر خپلې غاړې کېښود، او ګوري چې خپله غاړه کې یې هېره کړې ده. هغې خپلې ملګرو ته وویل: هیله کوم له ما سره راشئ! خو هغوی وویل:" ډېره ناوخته ده".



نو نوزیبیلې سیند ته یوازې ولاړه، خپله غاړه کۍ یې پیدا کړه او په چټکۍ سره د کور په لور روانه وه چې په تیارو کې ورکه شوه.



په لاره کې يې يوه روښنايي وليده چې له يوه کوچني کور څخه راوځي. هغې(نوزيبيلې) د روښنايي په لور ورغله. يوه دروازه يې ومندله او ويې ټکوله.



عجیبه دا وه چې د نوزیبیلې لپاره یو سپی ور خلاص کړ او ویې ویل: ته څه غواړې؟ نوزیبیلې وویل: زه ورکه شوې یم او د خوب لپاره ځای ته اړتیا لرم. سپي وویل: دننه راشه، کنه خورم دې! نو نوزیبیلې دننه ورغله.



وروسته سپي وویل: زما لیاره خواړه پاخه کړه! هغې وویل: مګر ما د سپي لیاره هېڅکله پخلی نه دی کړی. سپي وویل: پخوې یې یا ودې خورم! نو نوزیبیلې د سپي لیاره خواړه چمتو کړل.



وروسته سيي وويل: زما لپاره د خوب ځای تيار کړه! نوزيبيلې ځواب ورکړ، ما د سيي لپاره هېڅکله د خوب ځای نه دی تيار کړی. سيي وويل: ځای تياروې يا ودې خورم! نو نوزيبيلې د خوب ځای هم تيار کړ.



هره ورځ نوزيبيلې مجبوره وه چې خواړه پاخه کړي، جارو وکړي او د سپي لپاره جامې ومينځي. بلاخره يوه ورځ سپی وويل:
نوزيبيلې، زه نن د ملګرو ليدو ته ځم. مخکې له دې چې زه بېرته راشم، کور جارو کړه، خواړه پاخه کړه او زما کالي ومينځه.



ځنګه چې سپی ووته، نوزیبیلې د خپل سر څخه درې ویښتان را واخستل. هغې یو ویښته د کټ لاندې کېښود، یو یې د ور تر شا کېښود او یو یې په جونګړه (کلبه) کې کېښوده، او په ډېره چټکۍ سره خپل کورته په منډې ولاړه.



کله چې سپی راغئ، نو نوزېبېلې یې لټوله او غږ یې وکړ: نوزېبېلې، چېرته یې؟ لومړني ویښته وویل، زه دلته یم د کټ لاندې، دوهم وویل زه دلته یم د ور شا ته، دریم وویل زه دلته یم په جونګړه (کلبه) کې.



وروسته سپی پوه شو چې نوزیبیلې هغه سره چالاکې کړې ده. نو تر کلي پورې په منډه منډه راغئ. مګر د نوزیبیلې ورور له غټې لرګي سره په تمه ولاړ و، سپي چې د نوزیبیلې ورور ولید، بېرته وګرځېد او لرې ولاړ. نور تر اوسه لا لیدل شوی نه دی.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## نوزيبيلې او درې ويښتان


Tessa Welch
Wiehan de Jager
Darakhte Danesh